# ترور، وحشت، فحشا، فساد، ناامنی او تعصب له کفارو سره د دوستۍ طبیعي پایله ده!



**خبر:**

د روان میلادي کال د مي له ۳۱مې د جون تر ۳ مې کابل د یو لړ خونړیو چادونو او تاوتریخوالو شاهد و. د مي په ۳۱ مه د چهارشنبې په ورځ د المان سفارت ته نږدې یوه هیبتناکه او وېروونکې چاودنه وشوه، چې د رسمي شمېرو پر اساس کابو ۱۰۰ کسه یې ووژل او ۴۶۰ نور پکې ټپیان شول. حال دا چې غیر رسمي او واقعي شمېرې تر دې زیاتې دي او تر اوسه لسګونه کسان د پېښې له ځایه بې درکه دي.

د جون پر دویمه د جمعې په ورځ سلګونو کسانو د خلکو د امنیت د ټینګښت په برخه کې د دولت په کمزورۍ د چادونې په ځای کې لاریون وکړ، چې د ولسمشر اشرف غنی او اجرایي رییس عبدالله عبدالله د ګوښه کېدو غوښتنه یې کوله؛ چې د دواړو لورو (خلکو او نظامي ځواکونو) له لوري د تاوتریخوالي له سترو څپو سره مخ شول. په پایله کې پنځه لاریون کوونکي ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول. وروسته د جون پر درېیمه په لاریونو کې د وژل شوو د جنازې په لمانځه او د تدفین د مراسمو په بهیر کې درې پرلپسې چاودنې وشوې، چې لږ تر لږه اوه کسه پکې ووژل شول او ۱۰۰ نور یې ټپیان کړل.

**تبصره:**

پرلپسې خونړیو پېښو راتلونکې ته د خلکو اندیښنې زیاتې کړې دي. په خلکو او سیاسي او قومي مشرانو کې یې قومي-ژبني درزونه نور هم پراخ کړي دي. په داسې کړکېچن حالت کې د شمال اتحاد ډېرو څېرو، چې زیاتره تاجک او فارسي ژبي دي، جمهور رییس، د ملي امنیت شورا رییس، د ملي امنیت عمومي رییس او د ولسمشرۍ د عمومي ګارد قومندان ته، چې افغانان او پښتانه دي، د انتقاد ګوته ونیوه او دولت یې په تنده لهجه د خونړیو پېښو په نه مخنیوي او د نژاد له مخې پر تبعیضي چلند تورن کړ. نو هغه احتمالي پایلې چې د چادونو او تاوتریخوالو له دغې څپې تر لاسه کېږي، په لاندې ډول دي:

۱. امریکا په افغانستان او سیمه کې د خپلو اشغالګرو ځواکونو د ساتنې لپاره، په لوی لاس د ولسمشر او اجرایي رییس په رهبرۍ، دوه سره دولت واکمن کړی؛ ترڅو دننه له قومي، نژادي او ژبنیو درزونو او څو ټوټې والي سره مخ وي او بهر په خلکو کې هم مشروعیت ونه لري. په داسې حالت کې دولت له کمزورۍ،

کورنیو کړکېچونو او د ژوند په ټولو ډګرونو کې له بې کفایتۍ سره مخ کېږي او په دوامداره توګه د اشغالګرو ځواکونو ملاتړ ته اړتیا پیدا کوي.

۲. په افغانستان کې د امریکا د لاسپوڅي دولت د تاسیس له پیله تر ننه په بېلابېلو طریقو لکه؛ وژنه، ترور او له واک څخه په تدریجي توګه د ګوښه کولو په واسطه هڅه کیږي، تر څو پخواني قومي مشران او مجاهدین له مفسد کولو وروسته د قدرت له ګدۍ ګوښه کړي؛ چې د جان کیري دولت د شمال اتحاد د قومي مشرانو او جهادیانو؛ چې زیاتره تاجک او فارسي ژبي دي، پر تابوت له ګلبدین حکمتیار؛ چې پښتون او د کورنیو جګړو په جریان کې د دوی سرسخت دښمن و، د مصالحې له لارې وروستۍ مېخ ووهه. تر دې چې د بلخ ولایت سرپرست دا ډول چاودنې او د لاریون کوونکو ځېونکې چلند «ناځوانمردانه توطیې او په یوه ټاکلې سیاسي جریان مستقیم برید» وباله. دغه راز د بهرنیو چارو وزیر او د افغانستان د اسلامي جمیعت ګوند سرپرست صلاح الدین ربانی پر خپله رسمي فېسبوکپاڼه ولیکل، چې ژر تر ژره به "د نظام دننه تروریستانو او له هغوی سره د ملي حساب» په اړه خپل دریځ اعلان کړي.

۳. د ماکیاولي د شاګردانو دا ډول سیاستونو د افغانستان فضا پر توکمپالنه، نژادپالنه او ژبپالنه چټله کړې او د خلکو احساسات یې پر تاجک او افغان، پښتون او فارسي ژبي او... تجزیه کړي، چې ټل له اشغالګرانو او استعمارګرانو سره مرستندوی واقع شوي. د افغانستان مسلمانان یې په خپل منځ کې اخته کړي او د اشغالګرانو او استعمارګرانو پر وړاندې مبارزه یې په بشپړ ډول د دوی له ذهنونو ایستلې.

۴. که د چاودنو قوت، پېچلتیا او مدیریت شوي تسلسل ته پام وکړو، مومو چې د دا ډول چاودنو د مدیریت کچه د وسله والو ډلو له تخنیکي وړتیاوو او نظامي امکاناتو له کچې لوړه ده او د نورو استخباراتي ځالو، د کفارو د سفارتخونو او اشغالګرو ځواکونو په ځانګړي توګه امریکا او د هغې د کرایي قاتلینو له خوا هغو ته پر لاره هوارولو دلالت کوي. ټول شواهد پر دې دلالت کوي، چې چاودل شوی ټانکر له هوا نه ځمکې ته د توغوندي او یا بم په وسیله له ډېر له لرې واټنه په نښه شوی دی، چې دا ډول ستره چاودنه یې رامنځ ته کړه.

۵. د جان کیري کمزوري او دوه سره دولت، یو ځل بیا د لاریون کوونکو په ځپلو سره ثابته کړه، چې د خلکو حقونو او د دوی په اند «ډیموکراتیکو ازادیو» ته ارزښت نه ورکوي او ټل د خلکو د لاریونو د ځپلو له لارې د کفارو د ګټو ساتنې او استبداد د دوام په لټه کې دي. په دې اړه په کابل کې د امریکا سفارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل: «په داسې حال کې چې په ډیموکراتیکه ټولنه کې د سوله ییزو لاریونونو هرکلی کوي، د جمعې په لاریونو کې ځینو "تنګنظره" سیاسي عناصرو له دغه فرصته ګټه پورته کړه او تاوتریخوالي ته یې لمن ووهله». د امریکا سفارت د دغه اعلامیې له لارې په منافقانه ډول د دولت ځپونکی موقف تایید کړی او د خلکو لاریونونه یې "تنګنظره" بللي دي.

۶. په نړیوال اړخ کې د چهارشنبې وېرووونکي چاودنه، چې د المان سفارت ورودي دروازې ته نږدې وشوه؛ امریکا هڅه وکړه ترڅو د دغې سترې چاودنې په وسیله المان او د نورو رقیبو هېوادونو رهبرانو ته داسې پیغام مخابره کړي، چې امریکا په ټولو استعمار شوو هېوادنو کې د المان او نورو ګټې ګواښلی شي. نو د واشنګټن د غوښتنو او تمایلاتو په مقابل کې باید بې تفاوته پاتې نه شي او یا یې هم مخالف عمل و نه کړي. هغه څه چې اروپا ته د ټرامپ په سفر د ناټو او جي ۷ هېوادونو په کنفرانسونو کې د ټرامپ او مرکل او د اروپا د نورو رهبرانو تر منځ په ښکاره ولیدل شول.

نو دا نه انکارېدونکې حقيقت دی، چې د پانګوالۍ د فاسدې ايډيولوژۍ او د هغې د چټل نظام ديموکراسۍ له راتګه وړاندې افغانانو د تاريخ په اوږدو کې د انتحار او انفجار ښکارنده اصلاً نه وه تجربه کړې. د فساد مختلف ډولونه، فحشا، فقر، بې‌کاري، انتحار او انفجار د امريکا او ناټو له اشغال سره يو ځای دې خاورې ته راغلل. نو تر کله چې د صليبيانو اشغال او استعمار پای ته ونه رسي، د لومړي تروريستي دولت امريکا، د هغې د نړيوالو شريکانو او محلي مزدورانو په وسيله د دغه ډول وحشيانه تېرېو تسلسل به همداسې دوام ومومي. دوی به تل د دا ډول بريدونو مسوليت د همغه معلومو-مجهولو «اسلامپالو تروريستي ډلو» پر اوږو وړواچوي او د اسلامي امت پر وړاندې د جګړې، ترور او وحشت د شدت او د اشغالګرو ځواکونو، د هغوی د استخباراتو او په سيمه او افغانستان کې د هغوی د کرايي قاتلينو د زياتوالي د توجيه لپاره به ګټه ترې اخلي. موږ بايد د ډيموکراسۍ چټل نظام او له بالفعل محاربو کفارو سره دوستي له تجربې وړاندې رد کړې وی؛ خو اوس د دغه کفري نظام د تطبيق او له امريکا او ناټو سره د ستراتيژيکو او امنيتي تړونونو طبيعي نتيجه همدا وحشت، فحشا، فساد او ناامني ده او بس. مګر لا تر اوسه هم فرصت دی، چې له صفر څخه پيل وکړو، د ژوند په ټولو ډګرونو کې پانګوالي مبداء «ايډيولوژي»، د هغې چټل نظام ډيموکراسي، خاين او مزدور چارواکي رد کړو او د نبوت پر تګلاره د ريښتيني بدلون او يوازيني مشروع نظام «خلافت» د تاسيس لپاره ملا وتړو.

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير ولايه-افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**